محمد حکیم اګدري ۲۰۱۱/۱۱/۱۶

# وړانديځ
# د افغانستان او امريکا د ستراتيژيک تړون په اړه

که څه هم د پورتني تړون په اړه په ډله يزو رسنيو کې په يوه او بله بڼه څرګندوني شوي دي. ډېر وګړي لا تر اوسه چوپه خوله دي، خو ځينو يې د هو او نه په اړه خپل غبرګونونه څرګند کړي دي.
د درنو هېوادوالو د غبرګونو غټ ټکي دا دي:

الف - هغوی چې د دې هډو په اړه اندېښني لري، وايي چې:

- زموږ په هېواد کې دا ټولې ستونځې (جګړه، رشوت، فساد، د قانون نه درناوی، د کوکنارو کښت، او داسې نور) په سيده يا ناسيده ډول د بهرنيو او په تېره د امريکا لخوا رامنځته شوي دي. د همدې هدف (د هډو د تر لايه کولو) لپاره يې دا جنګ زموږ کور ته راوړی. دوی په خپلو کړنو کې ريښتيني نه دي او دا پخپله د اندېښني وړ ده.
- که د بهرنيو لاسوهنې نه وای، زموږ پوځ د دې وړتيا درلوده چې د بهرنيو پر وړاندې د هېواد دفاع وکړي. دوی دې زموږ پوځ جوړ کړي، هېواد دې راته اباد کړي، خو دوی دې نور دا وطن موږ ته خوشې کړي.
- د امريکا هډې زموږ ناپيیلتوب ته زيان رسوي. دا هډې زموږ د ګاونډيانو احساسات راپاروي او کېدای شي چې موږ ته ستونځې جوړې کړي.
- امريکا دلته د مرستې لپاره نه ده راغلې خپلې کرغېړنې موخې او ګټې لري.
- دا هډې زموږ د ښکېلاک و نېواک لپاره يوه پلمه ده.
- ځيني بيا له دې هډو سره خپل مخالفت ښيي، خو د يادولو وړ کوم ځانګړی دليل نه وړاندې کوي.

ب - هغوی چې د دې هډو پلوي کوي وايي چې:

- د دوستو هېوادو تر منځ داسې يو ستراتېژيک تړون، چې د دواړو هېوادونو ګټې وساتي، کومه نوې خبره نه ده. له امريکا سره په نړۍ کې ډېرو هېوادو داسې تړونونه لاسليک کړي دي، چې ښې پايلې يې لرلې او لري يې. دوی وايي چې يو خپلواک هېواد دا واک لري چې د ګاونډيو له سلا پرته له هر بهرني هېواد سره د خپلو ملي ګټو په رڼا کې هر ډول تړون لاسليک کړي. زموږ ګاونډيانو (پخواني شوروي، ايران او پاکستان) هم پخوا زموږ له سلا پرته دا کار کړی دی. په اوسمهالو شرايطو کې په افغانستان کې د امريکا پوځي هډې زموږ په ګټه دي. دوي دا هم وايي چې ګاونډيانو (په تېره پاکستان او ايران) د افغانستان د اوبو، ډيورنډ کرښې، دکشمير لانجې او د داسې نورو لاملونو پر بنسټ له ډېر پخوا راهيسې تر خپله وسه زموږ په کورنيو چارو کې په پټه او ښکاره لاسوهنه کړې ده او کوي يې.

## وړانديځ

۲- که همدا «ټول افغان» په خپله ووبيانه کې «د افغانستان او امريکا ستراتيژيک تړون» ته د ټولېز پوهاوي او په اسانۍ سره د لوستونکيو د لاسرسي لپاره يوه برخه ځانګړې کړي او ټولې هغه ليکنې چې تر اوسه په ټول افغان او يا نورو ووبيانو کې په دې اړه خپرې شوي دي، د ټولو ربنتو په نظر کې نيولو (سرچينو ښودلو) سره راټولې او په همدې ځانګړې برخه کې ورته ځای ورکړي. ښايي د اوسمهاليو تخنيکي اسانتياوو په مرسته به دا کار شونی وي.

۲- چارواکې دې زر تر زره د تړون منځپانګه په بله وينا ربنتي (حقوقي) برخه په ډاګه کړي چې د هغې پر بنسټ د هو او يا نه په اړه پر ځاي څرکندونې وشي.

۳- زما په اند د هېوادوالو په غبرګونو کې چې تر اوسه خپاره شوي دي، تر ډېره ځايه د پوهنيز منطق پر ځای د احساساتو برخه ډېره ليدل کيږي. ښايي چې روښاندي، سياستوال، سياستپوه، سياسي ګوندونه او مدني ټولنې په دې اړه خپل نور غبرګونونه هم وښيي. خو، ښه به دا وي چې د ټوليز پوهاوي لپاره يې لاملونه هم څرګند شي. د همدې څرګندونو په مرسته به دې ملي پوښتنې ته د احساساتو پر ځای د پوهې او منطق په رڼا کې پوهنيز ځواب و موندل شي. که يوازې پر همدې بسنه وشي چې دا موږ نه منو او موږ ته تاوان رسوي، يا دا چې دا کار په اوسنيو شرايطو کې زموږ په ګټه دی، نو د ((ولې او يا څنګه؟)) د پوښتنې ځواب نيمګړی پاتې کيږي او بې بنسټه ځواب له ټولېز پوهاوي سره مرسته نشي کولای.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سره له دې چې د پورتني ټرون رښتي اړخ لا تر اوسه سم نه دی روښانه شوي، خو تر هغه ځايه چې په ټرون کې د پوځي هڅو خبره کېږي، نو زما په اند که چېرې دې لاندينيو پوښتنو ته د ځواب وموندلو هڅه وشي او لاملونه يې څرګند شي، کېدای شي د دغه ټرون په اړه به له ټوليز پوهاوي سره تر يو ځايه مرسته شوې وي.

- که امريکا د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره په افغانستان کې هڅې جوړوي، نو زموږ موخې څه دي، څه غواړو اوڅنګه يې تر لاسه کولای شو؟
- زموږ ستونځې څه شي دي او د حل لارې چارې يې څه کېدای شي؟
- زموږ او د سيمې هيوادو په کچه د اقتصاد، ټولنيز ژوندانه، پوهې، پوځي ځواک او داسې نورو په اړه يوه پرتليزه ارزونه
- د خپلواکۍ د اوسمهالي مانا په اړه څرګندوني (خپلواکي د يو بنسټيز ارزښت په توګه د ۲۱ پېړۍ په هينداره کې، نه د نولسمې پېړۍ له هينداري (زوړ تعريف))
- دا هڅې زموږ له اوسمهاليو ستونځيو او اړتياوو سره څه او څومره مرسته کولای شي؟
- که دې هڅو ته مثبت ځواب ووايو، زموږ د راتلونکې لپاره څه ارزښت لري، زموږ لپاره يې ګټې او زيان څه کېدای شي؟
- که دې هڅو ته منفي ځواب وويل شي پايلې به يې څه وي؟
- د دغه روان ناورين پای ته رسولو لپاره د دې هڅو پر ځای کوم بل بديل (الترناتيف) شته که نه، که وي نو هغه کوم دی؟
- زموږ اړتياوې کومې دي؟ ايا په اوسنيو شرايطو کې له بهرنيو مرستو پرته موږ خپلې اړتياوې پوره کولای شو؟ که دا کار شونی وي، لارې چارې يې کومې دي؟

۴ – لکه چې مخکې يې يادونه وشوه، چې د ټرون منځپانګه (رښتې برخه) لا تر اوسه نه ده په ډاګه شوې، خو بيا هم هغوې چې دې ټرون ته د هو (مثبت) ځواب وايي، نو هيله ده چې دا رښتې برخه يې هم تر يو ځايه روښانه کړي. د بېلګې په توګه:

- زموږ د بنسټيزو ارزښتونو (دين، کلتور، خپلواکۍ) خونديتوب او ساتنه
- د وګړيو د مدني ربنتو ساتنه
- د اساسي قانون په رڼا کې د هېوادوالو د ټولو رښتو خونديتوب او ساتنه
- د بهرنې تېري او لاسوهنو مخنيوي
- که چېرې کوم بهرنی د دوي له هڅو بهر کوم جرم تر سره کړي، د چا له خوا به حزا ورکول کېږي؟ او داسې نور......

په درنښت،


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ